# ملي اديب څوک دئ؟

اوس زموږ په ګران هیواد کښې ډېر وګړي د اولسوالۍ او ملیت په قدر پوهېدلي دي، او ډېر خله لیدل کیږي چې پوهان او ځلمي د ملیت ښېګړو ته تخنک لري او غواړي چې ملي عنعنات او د پښتونوالي خصایص ژوندي او ټینګ کړي.

په ادب کښې هم لکه د ژوندون نوري څانګي د ملیت ښېګړي او د خپلو اولسي رشو او دودونو ساتنه ددې پېړۍ د ژوند یو ډېر مهم ټوک دئ، او هر اولس او ټبر چې ځانته "ملي ادب" او ادبي خپلواکي نه لري، هغه داسي ګڼه سي لکه ساه چې نه لري، او د ادبي ژوندون څښتن نه وي. که موږ د نورو ژوندیو او غښتلو ټبرونو تاریخ ته ځیر سو او د دوي د لوړتیا او نوی ژوند پاڼي وپلټو، دا به راته څرګنده سي چي د دوي پوهانو او نومیالیو ژبه ورو، او لیکونکو خپلو بیدو او ناویښو ټبرو ته پخپل ادب کښې د ویښوالي او ژوندون لوستونه ښکه ورکړي؟ او خپل اولسي او ټبري ښېګړي ئې ښکه پخپل لیک او ادب کښې خوندي کړي دي؟ نن موږ غواړو چې په پښتو خپل ټبرنی ادب روغ کړو، او داسي یو نوی او د نوی ساه څښتن ادب ولرو، چي زموږ د اوسني ژوندون په لوړتیا کښې راسره مرستې وي، او دغه ادب موږ د خپل ټبرني ژوندون سره ونښلوي او د لوړتیا او پر مخ یون لاره راته سمه کړي، او موږ په دې پېړۍ کښې ژوندي او مېړني او ګړندي پښتانه سو، له یوې خوا خپل د پښتونوالي

ساتنه او ژغورنه وکړو له بلي خوا ددې اوسنۍ نړۍ له ټولو مدني او تهذيبي ښېګړو څخه هم بشپړه برخه ولرو نو داسي يو ژوندی او ګړندی نوی ادب موږ ته څوک را روغولای سي؟ ددې پوښتني ځواب دا دئ چي "ملي ادب"!

مګر ښايي چي دلته موږ دا خبره هم څرګنده کو او سره وئې شنو، چي "ملي اديب څوک دئ؟"

ملي اديب موږ هغه پوه او پياوړی ليکونکی ګڼو چي فکر ئې د خپل ټبر وي، ليک ئې د خپل ټبر وي، ژبه ئې د خپل ټبر وي، تخيل ئې خپل وي، د ويلو او ليکلو ډول او سبک ئې خپل وي، مراد او مقصد ئې خپل وي، ټبر ئې خپل وي.

دا ټوله چي خپل سوه نو يو اديب او شاعر کولای سي چي د ملي اديبانو په ټولۍ کښي ودريږي، او دا نوم وګټي، د داسي اديب په رغ ټبرونه غوږځي، او اولسونه ويښيږي، له درانه خوبه وګړي راپورته کوي، رغ ئې اغېزه لري، ناري ئې د ډيرو زړونه نري کوي، غلبلې ئې واړه او غټ اروي، د ټبر په ماغزو او زړو کښي ځای نيسي، ملي اديب په خپله ژبه ويل کوي، خپل ستايي، پردي غندي، خپل خپل ګڼي، پردی پردی ! هغه چي ئې خپل وي پالي ئې او غټوي ئې. "پردی ښې نيمه خوا" بولي او ورکوي ئې.

ملي اديب د خپلو سره د زړه مينه لري، د خپل سپېڅلي ادب په اغيزو، د ټبر له زړو څخه پردي آثار زدويي او خپلي ټبرنۍ ښېګړي ورښيي. دی د ټبر خواخوږی ساتندوی، او له پردو اغېزو څخه ژغورونکی وي. ملي اديب ګرزي پلټنه کوي، هري خواته ځي، هر ګوټ شني، څه کوي ؟ په يوه خوا يا يوه پټ سوړی کښي چي يوه د ټبر ښېګړه ومومي دا خپل ورک غمی ګڼي، را اخلي ئې د خپلي وينا په اوبو ئې داسي روڼوي چي خورا ښه وايسي، نو ئې ټبر ته وړاندي کي، او وايي : "ونيسئ دا ستاسي يو خپل اولسي



غمی دئ !" او که په ټبر کښي کومه ناوړه ووينې ژر ئې ورښيي چي : "اې اولسه! دا ناوړه پرېږدئ، ستاسي سره وړ نه ده، که نه وي وران به سئ" دا د ملي اديب دنده ده او دغه ئې چاره ده. هغه سړی کورټ ملي اديب نه باله کيږي، چي دا خصوصيات نه لري، او دداسي ښېګړو خاوند نه وي. هغه ليکونکی، ويونکی هغه شاعر چي د ټبر په ماغزو کښي پردي افکار، پردي تخيلات، پردي عنعنات اچوي، او د پردو فکر غلا کوي، په ځان پوري ئې تړي، او د پردو د ادب پېښې کوي، د پردي ثقافت تبليغ په خپل کښي کاندي داسي سړی د مليت په نړۍ کښي لوی دروهونکی دئ، او نوم ئې په پېټ او پېغور يادېږي. يو ټبر چي ژوندی وي، يو اولس چي ځانته ساه لري، د لمړيو اديباتو قدر کوي، مجسمې او څلي ئې په نامه دروي، او بالعکس دوهمه ډله سپکوي، او ورکوي ئې، او تل په تره ورته ګوري، او نه ئې پرېږدي چي پردي مسموم افکار په خپل ټبر کښي خپاره کړي. موږ چي نن پښتو روزو، او ځانته ملي ادب مومو، او غواړو چي خپل ادبي ژوندون سم کو ښاغلو ملي اديبانو ته ډېره اړتيا لرو. نن موږ اړ يو، چي خپل ګلالی ملي ادب د ملي اديبانو په لاس وپالو، او د اتندي ښلکی ګل ددې روزونکو او پالونکو په لاس د مليت په بڼ کښي زرغون کو ! تر اوسه چي موږ د پردو د ادب په درياب کښي لاهوو، او اديبانو به مو د هغو پېښې کولې، دا پېټ راته بس دئ، پس له دې ښايي چي موږ ويښ سو، ځانونه وژغورو، خپل مليت وپالو، خپله پښتنواله وروزو، د خپل "ملي ادب" ډېوه د ملي اديبانو په لاس روښه کړو. زموږ ځلمي بايد ويښ سي، دې خواته ځير وګوري، د ملي ادب ژوندون ته ملا وتړي، د پردو پېښې پرېږدي، ځانونه چر پښتانه کړي. پوهان او مشران بايد ملي ادباء وپالي، وئې روزي، او ټوله د ټبر د پوهي څښتنان دې خواته پشپړه توجه وکړي، چي ګوندي دا مړاوی بڼ بيرته وغوړيږي، او په هيواد کښي يو ادبي نوی پسرلی ووينو[1]!

---

[1] کابل مجله، ۱۳۱۹ ل کال، اتمه ګڼه، ص ۱ _ ۳.